## مطبوعاتي اعلاميه

### د يهودو د صهيونيستي ناروا دولت د پلازمېينې په توګه د «بيت المقدس» د رسمي کولو له امله د «حزب التحرير-ولايه بنګله ديش» پراخ لاريونونه



**(ژباړه)**

حزب التحرير-ولايه بنګله ديش د ۲۰۱۷م د دسمبر په ۸مه د ذکا او چيټاګان ښارونو په ټولو جوماتونو کې د جمعې له لمانځه څخه وروسته د امريکا په لاس جوړ شوي صهيونيستي ناروا دولت د پلازمېينې په توګه د «بيت المقدس» د رسمي کولو له امله پراخ لاريونونه وکړل. د ويناوو په لړ کې يې د امريکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ خبرې په کلکو ټکو وغندلې او د عربو او اسلامي نړۍ خاين حکام يې، چې تل د ټرمپ غوښتنې په ورين تندي منې د دغې کړنې اصلي لاملين وګڼل. په رښتيا چې د مسلمانو حکامو دغې کړنې د اسلام دښمنانو ته دا جرئت ورکړ، چې د مسلمانانو له احساساتو سره لوبې وکړي او په ښکاره ډول د قدس سپېڅلی ښار د يهودي ناروا دولت د مرکز په توګه اعلان کړي.

ويناوالو همداراز وويل، چې د تمساح اوښکې او د مسلمانو او عربو حکامو نمايشي لاريونونه د دوی د نيمې پېړۍ خيانتونه نه شي پټولی. په ۱۹۴۸م کال کې د قدس له اشغال راهيسې دغه پلورل شوي حکام، تل په احساساتي او تش په نامه خبرو او د قضيو پر غندلو مسلمانان غولولي او په اړه يې هيڅ اغېز نه دی درلودلی. په حقيقت کې د مسلمانو خاين حکام د بيت المقدس د ازادۍ په فکر کې نه دي، بلکې ډېری وخت د «يهودي دولت د دفاعي ځواک» په توګه د دغه دولت پر وړاندې د مسلمانانو د اقدام خنډ ګرځېدلي دي. نو نه حيرانېږو ځکه چې د کفارو مشر ټرامپ په سيمه کې خپلو لاسپوڅو لکه: د اردن پاچا عبدالله، د مصر

ولسمشر عبدالفتاح السيسي، د سعودي عربستان پاچا ملک سلمان او د فلسطين ولسمشر محمود عباس ته وويل، چې له ده سره ملګرتيا وکړي. (سرچينه: ګارډين مجله، د ۲۰۱۷م د دسمبر ۶مه)

ټرامپ په خپلو مغرورانه خبرو سره جوته کړه، چې په څومره ښه اسلوب يې اسلامي امت په خپلو منګولو کې نيولی دی. همداراز نه حيرانيږو، چې اردوغان مسلمانانو ته قدس «سره کرښه» بولي. زموږ سوال له دغه ماهر رياکار څخه، چې خپل خيانتونه په پوچو او بې معنا خبرو پټوي دا دی: ايا د مسلمانانو له قاتلينو (صهيونستي اشغالګرو) سره د څو بيليون ډالري ګازو او نظامي وسايلو د معاملې تر سره کول له سرې کرښې څخه تېرېدل نه دي؟ نو څه لامل شوي چې وايي، قدس مسلمانانو ته سره کرښه ده؟ ايا د خپلو ديپلوماتيکو اړيکو پرې کېدو ته اندېښمن دی؟ ايا له صهيونستانو سره د قوي ديپلوماتيکو اړيکو ساتل د مسلمانانو پر وړاندې خيانت نه دی؟ الله سبحانه وتعالی به وايي:

اې مسلمانانو! د قدس خاوره د حضرت عمر او بيا د صلاح الدين ايوبي په مشرۍ د اسلام له دښمنانو څخه ازاده شوه او دغه خاوره د نړۍ د ټولو مسلمانانو تر منځ امانت ده. د دغه امانت ساتل او له قدس سره واقعي محبت په دې معنا ده، چې د صهيونستانو له اشغال څخه د قدس په شمول د فلسطين ټولې سيمې ازادې شي. نو له دې وروسته د داسې خاينو چارواکو په فصيحو او بليغو خبرو نه غولېږو، چې د کفارو له لاسه د دغې سپېڅلې خاورې د بيا نيولو لپاره هېڅ اقدام نه کوي. سمه نه ده چې خپل ځانونه د يهودي دولت د پلازمېينې په توګه د بيت المقدس د رسمي کولو پر خبرو اترو مصروف کړو؛ بلکې بايد خپل سياسي فعاليتونه چټک او راشده خلافت تاسيس کړو، چې په خپل حاکميت سره د غرب په لاس جوړ شوی صهيونستي ناروا دولت له منځه يوسي.

اې مسلمانانو! زموږ غږ ته لبيک ووايئ؛ د پيغمبر ﷺ له ژمنې سره سم به «بيت المقدس» د خلافت مرکز وي. راشئ له حزب التحرير سره يو ځای د نبوت پر منهج د خلافت د بيا تاسيس لپاره مبارزه وکړئ او دا مو ياد وي، چې يوازې د خلافت دولت هغه زهر له منځه وړلی شي، چې غرب د مسلمانانو په زړه کې شيندلي دي. پيغمبر ﷺ فرمايي:

**«هَذَا الأَمْرُ كَائِنٌ بَعْدِي بِالْمَدِينَةِ، ثُمَّ بِالشَّامِ، ثُمَّ بِالْجَزِيرَةِ، ثُمَّ بِالْعِرَاقِ، ثُمَّ بِالْمَدِينَةِ، ثُمَّ بِبَيْتِ الْمَقْدِسِ، فَإِذَا كَانَ بِبَيْتِ الْمَقْدِسِ فَثَمَّ عُقْرُ دَارِهَا، وَلَنْ يُخْرِجَهَا قَوْمٌ فَتَعُودَ إِلَيْهِمْ أَبَدًا»**

***ژباړه:*** *له ما به وروسته خلافت په مدينه کې وي او وروسته به په شام کې او بيا به د عربو په شبه جزيره کې وي، ورپسې به په عراق کې او بيا به په مدينه او وروسته به په بيت المقدس (قدس) کې وي، په بيت المقدس کې به د اسلامي دولت له واکمنېدو وروسته هېڅوک ونه شي کولی، چې هغه له منځه يوسي او هملته به ثابت پاتې کېږي.*

**د حزب التحرير-ولايه بنګله ديش مطبوعاتي دفتر**
**د صدور ګڼه: ۱۴۳۹/۰۳/۰۳**
**۱۴۳۹هـ.ق، د ربيع الاول ۲۰مه**

**٢٠١٧م، د دسمبر ٨مه**

**ژباړن: منصور دریځ**